# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# دانیال د زمرو په غار کښې اچول

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: .Mary-Anne S

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



داریوس د بابل نوے بادشاه وو. هغه ډېر هوښیار وو. هغهٔ د خپلې بادشاهۍ په بهترینو خلقو کښې یو سل او شل سړی خوښ کړل. د دې د پاره چې د هغه سره په حکمرانئ کښې مدد وکړو. بیا هغه په هغوئ کښې درې کسان د هغوئ د سرپرستئ د



پاره خوښ کړل، په دغه درېو سړو کښې یو دانیال هم وو.

داریوس بادشاه به د دانیال ډېر عزت کولو. هغهٔ دا سوچ وکړو چې هغه د پوره بادشاهۍ باندې حاکم مقرر کړم.



3

نورو مشرانو به دانیال سره کینه ساتله، نو هغوئ به د دانیال په کارونو کښې د غلطیانو معلوملو منصوبه جوړه کړه. د دې د پاره چې هغوئ دانیال د بادشاه په نظر کښې وغورزوی.



4

په دې خبره باندې هیڅ فرق نهٔ پریوځی چې هغوئ دا کوشش څنګه وکړو، خو هغه مشرانو ته د دانیال په باره کښې څهٔ غلطی ملاو نهٔ شوه. دانیال په خپلو ټولو کارونو کښې د بادشاه وفادار وو. د دې نه علاوه هغه ډېر هوښیار هم وو. او همېشه به یې هغه څهٔ کول څهٔ چې به هغهٔ کولے شول.



5

هغه مشرانو ته پته وه چې هغوئ دانیال په کومه طریقه باندې راګېر کړی. هغوئ ته پته وه چې په زمکه باندې یو څیز هم نشته دے چې هغوئ د خدائ د عبادت نه منع کړی.



6

دا دانیال دشمنانو یوه منصوبه جوړه کړه. هغوئ د بادشاه د پاره یو نوے قانون جوړ کړو. هغه قانون دا وو چې ټول به صرف د داریوس بادشاه د پاره دعا کوی. او چې څوک نافرمانی کوی نو هغوئ په د زمرو په غارونو کښې واچولے شی.




7

داریوس بادشاه په دې نوی قانون باندې دستخط وکړو.



8

9



هغه نوی قانونه په دانیال کښې هیڅ
فرق رانهٔ وستلو. او هغه هم هغه
څهٔ وکړل څهٔ چې به یې همېشه
کول. هغهٔ په ورځ کښې درې ځله
په سجده شو او آسمانی خدائ پاک
نه یې دعا وغوښتله.



10



هغه مشرانو بادشاه د وئیلو د پاره
تعدی وکړه. داریوس
بادشاه سره د دانیال د
گرفتارولو نه علاوه
بله لار نهٔ وه. ځکه
چې په قانون منل وو.
دانیال له مړ کېدل وو.
بادشاه ډېر کوشش وکړو خو
هغهٔ ته د قانون بدلولو د پاره
یوه لار هم ملاو نهٔ شوه.

11

دانیال ته دا سزا ورکړے شوه چې هغه دې زمرو په غار
کښې واچولے شي چې مړ شي. دانیال یې د اوږو زمرو په
غار کښې واچولو. د دې نه مخکښې داریوس بادشاه دانیال
ته ووئیل. چې ستا خدائ د چا چې ته همېشه
عبادت کوې تا له خلاصون درکړی.



12

بادشاه په هغه شپه باندې اودهٔ نه شو، په ورپسې
سحر ډېر زر، هغه د زمرو غار ته لاړو.



13

داریوس بادشاه دانیال له آواز ورکړو او ورته یې ووئیل.
اے دانیاله د ژوندی خدائ بنده آیا ستا خدائ پاک د چا چې
تا همېشه عبادت کړے دے. نو هغه په تا باندې قادر شو
چې هغه تا د دې زمرو نه خلاص کړی.
کېدے شي چې هغهٔ د جواب تمع نهٔ
ساتله. خو دانیال هغهٔ جواب ورکړو.



14



دانیال هغهٔ له
جواب ورکړو.
زما خدائ خپله فرښته
راولېږله. او د زمرو خولې یې بندې
کړې ځکه چې هغوئ ما له نقصان رانهٔ
کړی. ځکه چې زهٔ د هغهٔ په حضور کښې
بې گناه ثابت شوم.
او اے بادشاه
سلامت ما ستا
په وړاندې هم څهٔ
گناه نهٔ ده کړې.

داریوس بادشاه خوشحاله وو! هغهٔ حکم وکړو
چې دانیال د غار نه راوباسئ.



15

بادشاه ته پته وه چې خدائ
دانیال له خلاصون ورکړے دے.
او د دانیال دشمنان، د خدائ دشمنان
وو. هغهٔ یو حکم وکړو. چآ چې هغهٔ
له دهوکه ورکړه او په
دې بد قانون باندې
یې پرې دستط
وکړو. نو هغوئ
یې د زمرو په غار
کښې واچول. او
زمرو هغوئ
وخوړل.



16

داریوس بادشاه دانیال دا وئیل غوښتل چې آسمانی خدائ
پاک د خپل خادم دانیال حفاظت وکړو. بادشاه یو خط
ولیکلو چې په هغې هغهٔ ټولو خلقو ته دا حکم لیکلے وو
چې تاسو ټول به د ژوندی خدائ عبادت کوئ. بادشاه دانیال
له واپس خپله عهده او
عزت ورکړو.



17

دانیال د زمرو په غار کښې اچول

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

دانیال ٦

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

18

ختم شو



19

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې.
د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون وموومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا٣:١٢

20